# خبر پاڼه

## د دولتي سيکتور د کاري ظرفيت د پياوړي کولو په اړه
## د اداری سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري ګډه غونډه

**کابل، ۱۲ وری ۱۳۸۸**

د اداري سمون او ملکي خدمتونو خپلواک کميسون او د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې د دولتي سيکتور د کاري وړتيا د لوړتيا په اړه نن په کابل کې يوه دوه ورځنۍ غونډه پيل کړه. په دغه غونډه کې به د ملکي خدمتونو د ظرفيت لوړولو په برخه کې د تيرو لاسته راوړنو، په مخ کې پرتو ننګونو او د برياليو لارو چارو په اړه خبرې اترې وشي.

د افغانستان حکومت د عامه سيکتور د سمون او د ملکي کارکوونکو د ودې په لار کې د مشرۍ نقش لوبوي او په دې برخه کې د اداري سمون خپلواک کميسون دنده او مسؤوليت لري چې د عامه ادارې د سمون اړوند تګلارې او پاليسي تنظيم، اصلاح، تسويد او پلي کړي.




دولت په ښکاره وايي چې د عامه سيکتور ټيټ ظرفيت يوه ستره ننګونه ده. د دې ستونزې د حل لپاره، د اداري سمون خپلواک کميسون غواړي چې د دولتي وزارتونو او ادارو ظرفيتونو ته وده ورکړي چې خپل مسؤوليتونه پوره او خپلې دندې په اغيزمنه توګه ترسره کړي. د اداري سمون خپلواک کميسون دغي موخې ته د رسيدو لپاره په معمولو دندو کې د ظرفيت لوړولو، د ظرفيت د نيمګړتياوو د ارزولو، په ملي او محلي کچه د ظرفيت لوړولو او د څارنې او ارزونې د پلانونو برابراولو او پلي کولو ته پام اړولی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره د دولت جوړونې د بهير په برخه کې د يو پياوړي شريک په توګه کار کوي. نړيوالې ټولنې او ملګرو ملتونو له افغان دولت سره د يوې وړ او اغيزمنې ادارې د جوړولو په لار کې د پام وړ مالي او بشري مرسته کړې دي.

غونډه د اداري سمون د خپلواک کميسون رييس ښاغلي ډاکټر احمد مشاهد په وينا پرانستل شوه. ده وويل ”د اداري سمون د خپلواک کميسون لپاره د خوښۍ ځای دی چې د ملکي خدمتونو د ظرفيت لوړولو د مخکښ په توګه د ملګرو ملتونو له پرمختيايي ادارې سره يې په ګډه د نورو همکارانو په ګډون او مرسته دغه غونډه جوړه کړې ده“ ده زياته کړه چې ” د دې غونډې موخه دا ده چې تيرې پريکړې او کړنې تر بحث لاندې ونيسو او خپل افکار يې په اړه شريک کړو او زده شوو درسونو، مثبتو تجربو، لاسته راوړنو او کمزوتياوو ته کتنه وکړو او د راتلونکو پلانونو د ښه والي په اړه وغږيږو.“

غونډې ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي مرستیال استازي بو اسپلانډ په خپلو خبرو کې څرګنده کړه چې که څه هم د ظرفیت لوړولو چارې اکثراً د مرستندویانو له خوا تر پامه غورځول کیږي ځکه چې دا یو اوږدمهاله بهیر دی، چټکې پایلې نه لري او یا د ځان ښودنې لپاره زمینه نه برابروي، خو ظرفیت لوړول زموږ د ټولو هڅو د بریا لپاره ډیر مهم دی. دا ډیره مهمه ده چې په راتلونکې کې هم تیر ښه کار ته ادامه ورکړل شي او د بدلیدونکو شرایطو سره سم بدلون پیدا کړي ځکه چې د ظرفیت لوړولو کار ځای پر ځای ولاړ بهیر نه دی. په پای کې ده په دغه برخه کې په ځانګړې توګه په محلي کچه د لا ډیرې همغږۍ پر اهمیت ټینګار وکړ.

” د دولت او عامه سیکتور له ظرفیت لوړولو سره مرسته یوه اوږد مهاله بهیر دی چې د نړیوالې ټولنې له ملاتړ سره کلک تړاو لري. “ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې رییس وویل. ده زیاته کړه ” د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې په تیرو کلونو کې ګڼ شمیر داسې نوښتګرې پروژې پلې کړي دي چې په مرکز او ولایتونو کې د عامه سیکتور او د ملکي خدمتونو د ظرفیت د پیاوړي کولو موخه لري.“

دغه غونډه به د ظرفیت لوړولو او پرمختیا بریالۍ لارې چارې په نښه کړي او همدارنګه د ظرفیت لوړولو د نوښتونو تر منځ د یووالي لپاره ارزښتناکه لارښوونې ولري چې د ملي موخو او لومړیتبونو له لاسته راوړنې او له افغان ولس سره د شوو ژمنو له پوره کیدو سره مرسته وکړي.